*لومړۍ مرحله: د لومړنۍ پاملرنې لپاره د مجازي (د انټرنیټ له لارې په ویډیویي بڼه یا د تلیفون او پیغام لیږلو له لارې) پاملرنې په کلینیکي توګه مناسب کارولو لپاره لارښود*

# په تمرین (کار کولو) کې د لارښود بیانیې

د لارښود اړوند 'وسیلې' د **ontariohealth.ca/virtualcareguidance** څخه ډاونلوډ (ښکته) کړئ

## I. د مجازي لومړنۍ پاملرنې پلان کول

☐ ما ارزونه کړې چې کوم ډول مجازي خدمتونه ښايي زما ناروغانو ته ګټه ورسوي

☐ ما د مجازي پاملرنې په وړاندې کولو کې خپل ظرفیت، وړتیا او هوساېي (راحت) ټاکلې ده (د مثال په توګه د تلیفون، ویډیو، خوندي لنډ پیغام، بریښنالیک له لارې)

☐ که چیرې د مجازي پاملرنې یو ځانګړی ډول نامناسب وګڼل شي یا
د کارولو په وخت کې د موخې سره سم کار ونه کړي نو پدې اړه ما خپل روش (طریقه) ټاکلی دی

☐ ما په خپل کار (تمرین) کې د مجازي پاملرنې وړاندیز کولو لپاره خپله اراده شریکه کړې ده او ډاډ مې ورکړی چې نور دخیل خلک اړینه پوهه او مهارتونه لري

☐ ما خپلو ناروغانو سره اړیکه نیولې چې د مجازي پاملرنې هغه ډولونه ورته مطرح کړم چې زه یې په خپل تمرین کې وړاندیز کوم (تلیفون، ویډیو، خوندي لنډ پیغام، بریښنالیک)

د '***د مجازي پاملرنې په اړه د زده کړې اختیارونه***' وسیله د دې لپاره ده چې ډاکټرانو او د دفتر کارمندانو سره ناروغانو ته د مجازي پاملرنې وړاندیزونو په اړه خبرې اترې کولو کې مرسته وکړي. دا وسیله د **ontariohealth.ca/virtualcareguidance** څخه ډاونلوډ کړئ

## II. د مجازي لومړنۍ پاملرنې خدمتونو ترلاسه کولو لپاره د یو ناروغ د وړتیا ارزول، سند کول او شریکول

☐ ما خپلو ناروغانو سره د مجازي پاملرنې موجود اختیارونو په کارولو کې د دوی هوساېي، ظرفیت، او وړتیاوې مطرح کړې دي

☐ ما د مجازي پاملرنې په کارولو کې د ناروغ اړوند ننګونو سمولو لپاره یو پلان شریک کړی دی، د یو بیک-اپ پلان په شمول په هغه صورت کې که یوه تخنیکي مسله راپورته شي

☒ زه د ناروغ غوره توب مستند کولو او دا معلومات د ټیم اړینو غړو سره شریکولو لپاره یو میکانیزم لرم

☐ که شرایط (حالات) بدلون ومومي، زه د داسې کوم بدلونونو بیا ارزولو، مستند کولو او شریکولو لپاره یوه طریقه لرم

د '***د مجازي پاملرنې کارولو لپاره چیک لیست***' وسیله د دې لپاره ده چې د ناروغانو سره شریکه کړی شي او دوی ته اجازه ورکوي چې د غوره توبونو او وړتیاوو په اړه فکر وکړي. دا وسیله د **ontariohealth.ca/virtualcareguidance** څخه ډاونلوډ کړئ

## III. د مجازي لومړنۍ پاملرنې وړاندې کول

☐ زه د مجازي پاملرنې وړاندې کولو اړوند ثابت شوو/مخکښ تمرینونو ته دوام ورکوم

☐ زه د خپل تمرین (کار) دننه ټولو هغو ته چې د مجازي پاملرنې وړاندې کولو کې ښکیل دي مناسبه لارښوونه او ملاتړ چمتو کوم

☐ زه د ناروغ د لیدنې د بیړنی حالت کچه اولامل په پام کې نیسم اوکه لازم ښکاره شي نو شخصي لیدنې ته یې بدلوم

☐ زه د لیدنې په وخت د کلینیکي پرازنټیشن پیچلتیا او د شریک شوو معلوماتو حساسیت په پام کې نیسم او
که لازم ښکاره شي نو شخصي لیدنې ته یې بدلوم

☐ زه د خپلې مسلکي غوښتنې سره سم د لیدنو، د څرنګوالي په شمول یې، مستند کولو لپاره یو میکانیزم لرم او کارولی یې شم

Ontario Health